**د۱۳۸۵کال رپوټونه**

**دکنترول او پلټنې اداري د۱۳۸۵ کال په اوږدو کې پلټنې او فعا لیتونه تر سره کړي چې په لاندې توګه یې یادونه شوې ده:**

ترپلټنو لاندې مراجعې ۷۷۸ مرجعې مرکزي او سیمه ایزې اداري پکښې شامل دي

پلټل شوې مراجعې ٦۱٥ مراجعې

هغه مراجعی چې پلټل شوې ندي ۱٦۳ مرجعی دامنیتي نامساعدو شرایطو له امله

هغه رپوټونه او دوسیې چې ددولت دحقونو دتحصیل او تحقق په موخه ورسته له شننې او ارزونې دنیمګړتیاو داصلاح په موخه اړونده ادارو ته ابلاغ شوې (۷۰۱) رپوټونه دي .
هغه مبالغ چې دپلټنو په پایله کې د مالیې نه وضع کولو،صکوک ،کمیشن، ټکس، کرایې، دپیسو دتسعیر توپیر، دقراردادونو دفیات تجدید او داسې نورو مدارکو څخه ددولت خزانې ته دتحصیل وړ دي
مبلغ (۳۷٤)ملیونه افغانۍ کیږي.
لوی څارنوالي ته لیږل شویو دوسیو تعداد (۲۲) دوسیې دي.
په دوسیو کې شامله وجوه مبلغ ۷۴ ملیونه افغانی.

مبلغ (۱٤۹۷) ملیونه افغانۍ دپلټنو او داطمینانیوله اصولو څخه له مراجعو څخه ددولت خزانې ته لیږل شوي دي .
مبلغ (۲۱٦) ملیون افغاني د ادارو دکړنوپه صورت کې چې موږ ته یې له مراجعو څخه ډاډ را کړی تصفیه شوې دي .

په ۱۳۸۵کال کې دافغانستان دسفارتونو او ځینو قنسلګریو د پاکستان ، ایران ، امارات متحده عرب ، امریکا اوالمان په هیوادونو کې د ۱۳۸۱-۱۳۸٤ مالي او حسابي چارې وپلټل شوې . چې دنیمګړتیاو او تیروتنو برسیره مبلغ ( ۱۷،٤) ملیون ډالر ددوي له عوایدو مخکې له دې چې ددولت وارداتو ته شامل شي ددوی له خوا په بیلا بیلو برخو کې مصرف شوې دي .
په ۱۳۸۵کال کې دهند Deloitte کمپنۍ په همکارۍ چې دداخلي پلټنې دوړتیا دلوړولو مسولیت یې په غاړه لره . د کمپیوتر ،انګلیسي ژبې او دپلټنې کورسونه یې دایر کړل او (٤۳) تنه پلټونکي دانګلیسي کورسونو څخه (۲۲) تنه دکمپیوتر او (۱۱۹) تنه دپلټنې مسلکي کورسونو څخه ګټه واخیسته او (١٤) تنه دزده کړئیزو ورکشاپونو دزده کړې په موخه هیواد څخه بهر لیږدول شوی دي.

په همدی ترتیب دنړیوال بانک WB دپروژو لګښت ، دملګروملتونو پراختیا يي دفتر UNDP او دافغانستان دبیا رغونې لپاره دمرستو صندوق ARTF دلګښتونو بر سیره دکنترول او پلټنې اداري له لوري د دهند Deloitte کمپنۍ په همکارۍ تر پلټنو لاندې نیول شوي او دپلټنو دپایلو رپوټ يې اړونده مراجعو ته استول شوی ده.

همدارنګه دپلټنو دپایلو توحیدي رپوټونه ترتیب او پکښې (۲۷) عنوانه تیروتنې په اداري کړنو کې ځانګړې شوي ، دلري کولواو اصلاح په موخه يې (۱۲) مورده اصلاحي سپاربښتنې وزارتونو او ادارو ته وړاندې شوي دي .

همدارنګه د۱۳۸۴کال قطعیه حساب هم تر پلټنو لاندې ونیول شو په عادي قطعیه کې موافق نظر او پراختیا قطعیه کې دځینو نیمګړتیاو له امله دتائید وړ ونګرزیده .

د۱۳۸۴ کال قطعیې ته په کتو سره پدې کال کې دعادي بودجې نه لګول شوې وجوه (۱،۳) ملیارد اود پراختیايي بودجې (۲۹،٤٤) ملیارد افغانی په بر کې نیسي چې په ترتیب سره دنه لګولو سلنه يې (٤،۱۵) او(۵۷) سلنه ده.

ددې کال په اوږدو کې (٤۱) تنه کارکونکي داداري اصلاحاتودآزاده سیالی او ریفورم له لارې په بیلا بیلو برخو کې په دنده ګمارل شوی دي .